درویش وردک

۰۱ فبروری ۲۰۱۷

## دوه شپیتم مجلس(په توحید کی)

### دیارلسمه برخه

بزرګوارشیخ عبدالقادرګیلانی (رضی الله تعالی عنه) وړاندی داسی وفرمایل: علم زده کړه ، بیا ګوشه ګیری وکړه، څکه هرچاچی پرته له علمه اوپه پټوسترګودخدای عبادت وکړ، فسادیی له صلاح څخه ډیردی. دشریعت څراغ په لاره مخکی ونیسه، اوددین لاره په هغی پیداکړه. په ګاوندیو او ورونو له تکیی کولو ډډه وکړه، حرص اوشره له ځانه لیری کړه، اوحسن ادب ولره، پرته له خدایه له نورو سره پریکړون وکړه، وډارشه چی دظلمت دغبارپواسطه دی ددین څراغ کم رنګه نشی، پوه شه چی هروخت دحق دمرستی غوږ ورته ورسیږی ،منوربه وی.

(مَنْ عَمِلَ بِما يَعْلَمُ أَ وْرَثَهُ اللهُ عِلْمَ ما لَمْ يَعْمَلْ)-«هرڅوک چی په هغه څه چی پوهیږی، عمل وکړی، خدای پاک به داسی شیان چی نه پری پوهیږی، ورته زده کړی». هرڅوک چی په خلوص نیت سره دخدای عبادت وکړی،دزړه دحکمت چینی به یی په ژبه جاری شی، دناراودحق دنورپه لید به نایل شی، همداسی چی موسی علیه السلام بریالی شو(فَقَالَ لِأَهْلِهِ امْكُثُوا اِنِّى آنَسْتُ نَاراً)متعال خدای دنار دقدرت پواسطه دته ناری کړی، ناریی دقرب اودیداریی دهغی دلیل وګرځاوه، موسی علیه السلام دحق دقدرت ناردزړه په ونه کی ولید، (امکثو) په ځپل ځای پاته شی، (انی آنست نار) ما اوروليد، هغه وخت دحق ندا له ځپل باطن څخه واوریده،چی : (انا الله ــفاعبدنی )-«زه خدای یم، زما پرستش وکړه». پرته زماپروړاندی ،ځان دبل پروړاندی خوارنکړی، ماوپیژنه اوله نورو بیګانه شه، له ماسره متوسل شه اوله نوروپریکړون وکړه، ماولټوه اونورپریږده، زما دعلم خواته، زما دقرب خواته، اوزما دقدرت خواته وزغله،همداچی دغه مرحله پای ته ورسیږی،وصل اولقاء منځ ته راځی.( أَحَى اِلَى عَبْدِهِ مَا اَوْحَى)-«بنده ته یی وحی وکړه-هغه څه چی باید وحی کړی». پردی لیری شوی، کدورت اوتیاری زایلی شوی، نفس آرامش وموند، اودرحمت اوالطافوباران په اوریدو شو،( اِذْ هَبْ اِلَى فِرْعَوْنَ)-«دفرعون خواته ورشه».

ای زړه دنفس اوشیطان خواته وره اوهغوی ترپښولاندی رام کړه، زما لوری ته یی راهنمایی کړه اوورته وایه: (یَاقَومِ اتَّبِعُونِ اَهْدِكُمْ سَبِيلَ الرَّشَادَ)-«ای قومه زماپیروی وکړی ترڅو درته دسعادت اوپرمختګ لاره وښییم. سوره.غافر.آیه ۳۸».

ولی ته ای مسکینه! پوه شه چی دیرژربه دی ځواکونه له لاسه ورکړی، دوستان به دی درسره مخه ښه وکړی، اوداپه داسی حال کی ده چی ددنیا فقراودآخرت عذاب دی ځانته راټول کړی دی، پداسی حال کی قبرته ننوزی چی درته تنګ

شوی اودملائکوله خواب څخه عاجزیی، اودقبرله عذاب سره مخ یی، اوددوزخ له دروازو څخه ستاقبرته دروازه خلاصه شوی ده.

ای دمریدانو ډلی، ترڅو مجال لری په دی دنیا کی په حسن ادب سره چلند وکړی، ظاهراوباطن حق ته تسلیم کړی، ترڅو چی یی په وړاندی حاضریږی، دتیارو پردی مو له سترګولیری شوی وی، ژبی موپرانیزی اوغوږونه مو خلاص وی ترڅو دحق عنایت درته بصیرت، عمراوبقا، رزق اونورنعمتونه عطاوفرمایی، اودشاکرانواوصابرانوپه ردیف کی قرارولری.

(لَاأُقْسِمُ بِالنَّفْسِ اللَّوَّامَةِ)-«سوګند په سرزنشګرنفس باندی. سوره قیامت آیه ۲». رښتینی مومن په هره کلمه چی وایی اوهرګام چی پورته کوی ، خپل نفس محاسبه کوی، له ځانه پوښتی، ولی می داکاروکړ؟آیازماداکاردکتاب اوسنتوسره موافق دی اوکه نه؟ پس لازمه ده چی داسی عمل وکړی چی دنفس ترمحاسبی وروسته دخپل عمل په صحت باندی متیقن وی،چی دا دایمان له صحت څخه دی. زیاروباسه چی دفرایضو په ترسره کولو کی یقین او اخلاص ولری. پرته له یقینه نشی کیدای له دنیا ولاړشو. ددعاپه محال داسی مومن اوسه چی که دعادی اجابت نه شوه، اعتراض ونکړی، دصدیقینو له علاماتوڅخه یودادی چی په ټولو اموراتوکی خدای ته رجوع کوی. اودضرورت په محال دخلکو ترمنځ وی، ولی خپل احوال پټوی، جسما له خلکو سره دی ولی زړونه یی دحق پرووړاندی مقیم دی.

بنی آدم ته لازمه ده چی په دنیا کی داسی مجاهدت وکړی چی ټول حیوانی صفات له لاسه ورکړی، اوپه انسانی اخلاقو باندی متخلق شی، اوخپل نفس ته په خطاب کی ووایی: (اَکَفَرْتَ بِهَذا الرَّبِ؟)-«آیا دغه پالونکی-دکائناتوخالق- کفران کوی؟». هغه خدای چی : (اَلَّذِیْ خَلَقَکَ مِنْ تُرَابٍ،ثُمَّ مِنْ نُطْفَةٍ ثُمَّ سَوَّاکَ رَجُلاً)-«هغه خدای چی ته له خاورو پیداکړی،بیاله نطفی اوبیا یی جګه ونه سړی کړی. سوره کهف آیه ۳۷»، هغه چی دنفس په ولکه کی دی، هغه خدای چی دده پیداکوونکی اوخالق دی انکارکوی،له خلکوشرم کوی ولی له خدایه چی تل یی داعمالوکتونکی دی ، شرم نکوی!

ای چی په ظاهره دولایت مدعی یی، اوله معاصی اودحق له نافرمانی څخه لاس نه اخلی، آیا شرم نکوی چی آخرت دی په دنیا پلورلی دی؟

(ای دخدای بنده) په چی پرته له جهته تورمه لګوه، ښایی دهغی په هکله دی اشتباه کړی وی، تحسین باید دشرعی په موازینو ولاړوی، نه دخپل میل اوغوښتنی مطابق، هرهغه عمل چی دشرعی دقبول وړوی، غوره دی، اوهغه چی شرع ونه منی ،ناوړه اوناښایسته دی، هرحقیقت چی شرع یی ګواه نه وی کفردی اوزندقه. هرکله که دحق داهل ډلی ته داخل شوی، په ټولو حرکاتو اوسکناتوکی دهغوی سره همدم اوسه اودخدای شکرانی اداکړه.

ای ښاریانو، پوه شی-هغه لاره-چی تاسوپری روان یاست زماپرووړاندی ناښایسته ده، اوتاسو هم هغه څه چی زماسره دی ناپسنده ګوری. زما لاره اوستاسو یودبل ضد ده، ولی زه دآسمانونو دخالق په زورستاسو ترمنځ اوسم.

خپله ځوانی دی دسخط کسب اودخالق په قهرکی تیری کړی، اوخپل عمردی دزن اوفرزند اونورودرضایت دلاس ته راوړو لپاره تباه کړی، اونه پوهیږی چی فرجام اوبازګشت دی خدای ته دی. په ناچاره به دمرګ ږغ اجابت کوی. پلرونه اومیندی اودوستان اوسلاطین به ملاقات کړی، ولی هیڅ یوبه دقیامت له حاله درته خبردرنکړی.

اولیاءالله و لره مرګونه دی، یوله حرامو مړه کیدل، بل له شبهی مړه کیدل، بیاله مباح اوبالاخره له حلالو مرګ،اوپرته دحق له ذاته له هرڅه مړه کیدل، دادمرګ څومرحلی ترسرتیروی، اوله ځانه فانی کیږی، ترڅو دحق په قدرت په واقعی حیات ته ورسیږی.

(بِسمِ اللہِ مَجْراها وَمُرسَها)-هرکله که زړه دقدراوقدرت په دریاب کی په لامبوشو، ځای به یی دحق دقرب باب وی، وینتوب به یی خدمت اوخوب به یی وصلت وی. هرکله که څوک په لمانځه کی په خوب لاړل خدای پاک به ددی عبد ښایستګی فرشتوته وښئیی.بدن قفس دی اوروح پرنده چی پکی محبوسه ده، کله چی دبدن قفس مات شو،دروح پرنده په خلاصووزرونوخپل پیل(مبداء) ته په الوتوراځی.

**هرچاچی ته بذل اوبخشش ته وهڅولی ، هغه ستادوست دی.**

ای دنیا،زماپردوستانو دکارپه پیل کی ترخه اوسه، ترڅوته پری ګرانه نشی، اودکارپه پای کی دهغوی خدمت وکړه ترڅوپه تابوخت نشی. هرکله که به دعیسی علیه السلام پروړاندی دقیامت خبره وشوه، دبوری مورپه شان به نعره وکړه، اوویل به یی نه ښایی چی بنی آدم دقیامت نوم واوری اوساکت اوسی! ولی ته دحس درلودونکی نه یی، هیڅکله دی زړه دحق په یاد نه دی تپیدلی، دنفس هوا اوداخلی شیطان ته دحق څخه محجوب کړی یی. هرڅوک چی په دی دنیا کی آسوده واوسیدل، په لوی جهل اونادانی کی دی.

صادق مرید خپل تول کارونه خدای ته پریږدی، خپل ظاهری اعمال اورفتاردشرعی دحکم په هنداره کی ګوری، اوباطنی اعمال دعلم په هنداره کی. کله چی یی ظاهری اوباطنی اعمال دحکم موافق و، دقرب باب ته به ددخول اجازه ترلاسه کړی، ولی که یی (حتی) یوعمل دشرعی په لاره نه و،پاته کیږی اورته خطاب کیږی چی : اعمال دی دشرعی په موازینوبرابرکړه، هغه وخت رانئوزه، ځکه داهغه باب دی چی پرته دکتاب اوسنتودموازینو له رعایت څخه ددخول اجازه نه ورکول کیږی. په دی لاره کی دتوفیق په صورت کی به درحمت ټولی دروازی درته پرانیستل شی.

ای چی په توحید اوعلم اوتقوی کی تراوسه ناقص یی! دتوبی دروازی پرانیستی دی، په هرحال کی کولای شی چی راوګرځی. یوه شه چی دین دروزی ترلاسه کولو لپاره وسیله ګرځول نفاق دی، اودمشروع کسب اوکارڅخه ګټه اخیستل سنت دی،دی غوره سنتو ته راوګرځه ترڅو دریښتینی ایمان خاوند شی. دخلق دروازی دی دزړه پرمخ وتړه. دخدای پروړاندی، پرته له چون اوچرا، اوپرته له دی چی عطاته سترګی ونیسی، مقیم شه، یوازی دحق ندا ته غوږشه، اودده الطافوته سترګی ونیسه.

دموسی علیه السلام مورته خطاب وشو، چی که دزوی له برخلیک څخه په ویره کی یی نو هغه په دریاب کی واچوه،ته هم که ددین ویره لری، زړه دالهی رحمت په دریاب کی واچوه، اوځان هغی ته تسلیم کړه، ووایه ، ای خدایه ، ته دسفرملګری اوزما دزن اوفرزند ساتونکی یی.

خدای پیژندنه اودده په قدرت ایمان دهغه زړو په څیردی چی ترملا دی تړلی اوهرچیرته چی لاړشی تری کولای شی چی ګټه پورته کړی.

ای دهوی اوشهوت بنده،ای دنورو دحمد اوثناغوښتونکیه، یوه شه چی هغه څه چی ستا په هکله مقررشوی، درته رسیږی، منتهی هغه څه چی ستاماهیت روښانه کوی دادی چی آیا ته په هغوی پسی ځی، په هغی سره تالتوی؟

ستاپروړاندی دوه بابه دی، یودخلق باب اوبل دخالق باب، دنوروحقوق محترم وګڼه ، اوکه دخلکوسره همناسته کوی نو دحق رضاپه نظرکی نیسه،ترڅودحق عنایت دی تل دحال شامل وګرځی. دخلکوسره هم صحبته شه،ولی دخدای یاد مه هیروه، پدی صورت کی دی چی دحق سره یی نه دخلق سره، دخلکوسره دصحیح ناستی علامه داده چی له دوی څخه د-مادی-سود اوزیان طمع ونلری، بلکه هرڅه دعزّوجلّ خدای له لوری وګنی. هرزړه چی دفضل له طعامه وخوړل اودحق له کلامه یی واوریدل، اوپه قرب سره خوښ شو،خدی به یی په دنیا کی مخاطب وګرځوی اوپه خپلوانعامونوبه یی مفتخرکړی، اوپه قیامت کی به یی هم ترعنایت لاندی ونیسی.

یوه کس وپوښتل: کله چې خواړه مخلوط وی اوحلا ل اوحرام یی نه وی روښانه، پس څرنګه لمونځ اوروژه درسته دی؟ ځواب ورکړل شو: حلال څرګند دی اوحرام هم، شریعت دواړه روښانه کړی دی. په ضمن کی باید له زړه څخه فتوی واخیستل شی، که دی په کوم څه کی شک درلود له زړه وپوښته، که یی په صحت سره ګواهی ورکړه حلال دیو اوپه غیرصورت کی حرام، اوکه یی سکوت وکړ نوهغه ګوله به شبهه وی، هرکله که له مألوفاتوکناره شویو اونفس دی هم صبرته راضی کړ، اودژوندانه زوائدو اوظواهروته دی اعتناء ونکړه، دسلیم اوصاف زړه خاوند یی.

دمنافق زاهد، ظاهرسینګار اوباطن یی ککړ دی، څیره یی زیږه اواولباس یی هم پشمینه دی، ولی زړه یی نوروته څیردی، اوددوی په مدح اوستاینه خوښ دی، دطمع سترګی هغه اودی ته نیولی دی، ولی دعارف ظاهرنابسمانه، ولی باطن یی آرام اومطمئن، پاک اودزړه دصفاء خاوند دی، تول آسمانونه اوځمکه اوهغه څه چی پکی دی نشی کولای دده دزړه یوه برخه ونیسی. ولی ستاسره ددی مقولاتو څخه خبرنشته، نولی دی زړه له بده ظنه اوږبه له بده ګفتاره دنوروپه هکله نه تړی؟

ای هغو چی دنیا مودهغی داربابانو له لاسو تښتولی! ای خدای ناشناسانو! لازمه ده چی ژرترژره توبه وکړی، په خپلو ګناهونو اعتراف وکړی، په دی روش چی تاسو په مخ نیولی دی، هیڅ ډول خیرله تاسو څخه ندی متصور، داسی چی ددین اوایمان نورستاسو په زړو ندی خپورشوی،یوه شی دغه دنیا چی تاسو پری زړونه تړلی دی، پایداره نده. پاملرنه نکوی چی له کومه ځایه خوری، ستاسو مثال دهغی ښځی په څیردی چی خپل خاوند مجبورکړی چی غلاوکړی اودا مره کړی، ځکه چی هغه دحلالو اوحراموترمنځ توپیرنه پیژنی. پدی خاطرحق عزّوجلّ فرمایلی: (اِنَّ النَّفْسَ لَاَمَّارَةٌ بِالسُّوءِ). رسول اکرم (صلی الله علیه وسلم) فرمایلی دی: (علیک بذات الدین تربت یداک)-«ددین خاوند تا دآخرت په کارکی مرسته کوی، ولی نفس دهغی ښځی په څیردی چی تا دحرامو خوړولو ته هڅوی».

هرکله که دکاراوکسب ماحصل درته وړاندی شو، زړه دباطن سره متوسل کړه، اوباطن خدای ته متوجه کړه، که کاملا حلال و، په خپل دننه به ملکوتی ږغ(کُلُوامِنْ طَيِّبَاتِ مَا رَزَقْنَاكُم) واوری، پدی حال کی داډه اوسه چی حلال دی اوپه آرامه خاطر تری استفاده وکړه، اوکه حلال نه و، د(وَلَا تَأْكُلُوا مِمَّا لَمْ يُذْكَرِاسْمُ اللهِ عَلَيْهِ)-« دپاکو اوحلالوروزیوڅخه چی ستاسوبهره موګرځولی، وخوری. سوره بقره آیه.۱۷۲».ږغ به واوری، نوپوه شه چی حرام دی اوله خوړولو یی ډډه وکړه، ترڅومتعال خدای هغه په بهترو سره عوض کړی.دقضااوقدرسره په چلند کی حق ته تسلیم اوسه، ترڅو دقدرت لاسونه دی حقیقی نصیب ته راهنمایی کړی. زهد داسی کاردی چی په یوه ساعت کی ترسره کیږی، ورع هم همداسی، ولی معرفت سرمدی امردی، اوترابده پوری باید پسی اوسو.

هرکله که ستا اعمال دنیرو خلکو سره پرتله کړی، ددوی له اعمالو څخه ستاسره څه نشته، ته دنفس دپرورش په لټه اوهیلوته دهغی په رسولوپسی یی، ددی پرځای چی دهغی په ماتولو پسی شی، دشیطان دروازه دی ورته پرانیستی، پوه شه چی دانس شیطان خطر دجن شیطان څخه ډیردی، پس هوښیاراوسه اودنفس ماشوم ژرترژره دشهواتو له شیدو منع کړه، ترڅوچی یی دسرغړونی اورمړشی. هرکله که دنفس سره په مخامخکیدو بریالی شوی اودغوښتنو اوشهوتونو رینښی یی دی وایستلی، دخوف اورجاء ونه به دی په زړه کی زرغونه شی، اوداطمینان مرحلی ته به ورسیږی، اوداسی به مخاطب شی: (يَا اَيَّتُهَاالنَفْسُ الْمُطْمَئِنَةُ اِرْجِعِی اِلَی رَبِّکَ راضِیَةً مَرْضِيَّةً)-«ای مطمئنه نفسه، خپل خدای لوری ته راوګرځه، پداسی حال کی چی ته له خدایه راضی وی اوهغه له تاراضی وی. سوره فجرآیه ۳۰».

یوکس له منصورحلاج(رحمة الله علیه ) نه چی کله یی مصلوبولو وپوښتل،ماته نصیحت وکړه، ویی ویل: نفس ته دی پام کوه اومغلوب یی کړه، که نه هغه به تامغلوب کړی.

وایی: ابن عطا(رحمة الله علیه) تل ویل: خدایه دغربت په دی دنیا کی په مارحم وکړه. مرګ دوه ډوله دی: یودعوامومرګ چی هماغه موعود مرګ دی، اوبل دخواصومرګ چی عبارت دی له: دنفس دهوی سره اودشهواتوسره پریکړون، لدی مرګ وروسته دی چی زړه ژوندی کیږی، هرکله که زړه ژوندی شو، قرب حاصلیږی، اوجاویدانی-مرضی-ژوند پیل کیږی، ولی که دزړه اودمرګ له یاد سره حائل واقع شو، شخص په ظاهره په توحید ګواهی ورکوی، ولی په باطن کی ورسره شک اوتردید دی، مخ یی کعبی ته اړولی ولی زړه یی ددرهم اودینارپه لوری دی.

دهرچاپه زړه کی چی دخدای ویره وه شپه په ویښه تیروی، ولی ویره چیرته ده؟

**لویه خدایه ، مونږدشیطان له چیچ څخه وژغوره. آمین!**

**«ربنا آتنا فی الدنیا حسنه وفی الاخرة حسنه وقنا عذاب النار» آمین.**